PROPERTY OF ACKU

دغه رنگ مو تاسې غوره امت گرځولي یاست چې پر خلکو گواهان اوسئ

اونیزه شهادت

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارگان

درس قرآن

او مؤمنان چې کله هم د الله او دهغه د رسول په لور وبلل شي چې رسول دهغوی په مینځ کې فیصله وکړي نو وایي: مونږ بلـنـه واوربده، او ومو منله، او خلاصون د همدوی په برخه دی. او هغه کسان چې د الله او رسول منه وکړي او له الله نه وډار شـي او لـه سرغړونې څخه یې خان وژغوري نو همدوی بریمن دي. (النور: ۵۱ - ۵۲ آیتونه)

درس حدیث

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی دي:

څوک چې د خلکو ترمنځ د روغې جوړې کارونه کوي نو الله تعالی دهغه هر کار جوړوي او دهغه د هرې خبرې په بدل کې ورته د یو غلام د آزادولو ثواب ورکوي او مخکیني گناهونه یې بخښي. (ترغیب)

شهادت دریم کال، ۳۴ مه گڼه، پرله پسې ۱۳۴ مه گڼه چهارشنبه ۱۳۹۰ هـ ل د لیندۍ ۲ مه د۱۴۳۲ هـ ق د ذوالحجه ۲۸ مه د۲۰۱۱ م د نوامبر ۲۳ مه

امریکا باید در مورد ایجاد پایگاه نظامی در افغانستان وضاحت دهد "روسیه"

رادیو آزادی:
روسیه در مورد ایجاد پایگاه نظامی امریکا در افغانستان که چند روز قبل در لویه جرگه افغانستان روی آن بحث گردید، از ایالات متحده امریکا خواهان وضاحت شده است.
وزیر خارجه روسیه گفت: کرملین در زمینهء درک پالیسی اخیر ایالات متحده امریکا که از یک سو اعلان کرده که نیروهای خود را تا سال ۲۰۱۴ میلادی از افغانستان خارج می کند و از سوی دیگر بعد از سال ۲۰۱۴ پایگاه جدید را در این کشور ایجاد می نماید، مشکل دارد.
وزیر خارجه روسیه می گوید، خروج نیروهای امریکایی بعد از سال ۲۰۱۴ و مسالهء ایجاد پایگاه نظامی امریکا در افغانستان، دو مساله، متناقض می باشد که روسیه خواهان وضاحت از جانب ایالات متحده امریکا در مورد آن است.
سیرگی لاوروف که روز دوشنبه با یرژاک کازیخانوف وزیر خارجه قزاقستان در یک کنفرانس خبری مشترک در مسکو صحبت می کرد گفت: ما می خواهیم که خود را در مورد این تناقض آگاه سازیم.
روسیه، در مورد احتمال ایجاد پایگاه نظامی امریکا در افغانستان زمانی ابراز نگرانی می کند که نماینده گان از سراسر کشور در اجلاس چهار روزهء لویه جرگه که روز چهارشنبه گذشته در افغانستان تدویر یافت، در مورد موافقتنامه همکاری های ستراتیژیک درازمدت میان افغانستان و امریکا بطور گستردهء بحث و مذاکره کردند.
وزیر خارجه روسیه گفت: هر چند از لحاظ حقوقی این یک موضوع وابسته به روابط دو جانبه میان دو کشور به شمار می رود، اما به گفته وی از لحاظ سیاسی باید منافع کشورهای این منطقه پر جنجال که افغانستان در آن موقعیت دارد، نیز در نظر گرفته شود. زیرا آنچه که در افغانستان جریان دارد، بر کشورهای چهار اطراف و کشور های منطقه تاثیر مستقیم خواهد داشت.
سیرگی لاوروف اضافه کرد، روی همین دلیل برای روسیه مهم است تا بداند که این پایگاه بعد از خروج نیروهای بین المللی از افغانستان در سال ۲۰۱۴ میلادی در این کشور

بقیه در صفحه ۴

له امریکا سره د ستراتیژیک تړون په اړه خبرې دې د لویې جرگې د مشورو له مخې وشي

کابل، رسنی:
جمهور رییس حامد کرزي له دودیزې لویې جرگې وروسته د خپلو وزیرانو په لومړنۍ شورا کې اړوندو ارگانونو ته د دې جرگې له سپارښتنو او پریکړو سره سم له امریکا سره د ستراتیژیکو همکاریو د سند په اړه د مذاکراتو د پرمخ بیولو حکم کړی دی.
د جمهور رییس ویاند ایمل فیضي خبریالانو ته وویل، چې د امریکا له متحده ایالاتو سره د ستراتیژیک سند په اړه خبرې روانې دي او ورسته له دې به دا خبرې د لویې جرگې د مشورو له مخې کیږي:
"سر له نن ورځې نه د جمهور رییس حکم دی، چې هغه ټول ارگانونه او وزارتونه چې له متحده ایالاتو سره د ستراتیژیکو همکاریو د سند په اړه دخیلې دي، چې په هغې کې د بهرنیو چارو وزارت، د دفاع وزارت او د ملي

پاتې ۴ مخ

با تصویب یک قطعنامه شورای امنیت، افغانستان از حاکمیت و صلاحیت عام و تام برخوردار خواهد شد

کابل، رسانه ها:
آلمان دیروز خواهان تصویب یک قطعنامه شورای امنیت ملل متحد شد که بر اساس آن، از تلاش افغانستان در زمینه اخذ مسوولیت های عام و تام امور افغانستان به حکومت آن کشور، حمایت می شود.
بر اساس این قطعنامه، تمام مسوولیت های امور افغانستان، در چوکات استقلال و حاکمیت ملی آن کشور و در تطابق با فصل ششم منشور ملل متحد، به دست حکومت افغانستان خواهد بود.
در لویه جرگه هفته گذشته در کابل هم نماینده گان مردم از نقاط مختلف کشور، روی همین مسله تاکید کردند.
بر اساس این قطعنامه ملل متحد، که آلمان از تصویب آن حمایت کرده است، افغانستان از حالت انتقال خارج و به مرحله ترانسفورمیشن یا شکل گیری وارد می شود. یعنی در امور مختلف داخلی چون امور سیاسی، دفاعی،

بقیه در صفحه ۴

امریکا، بریتانیا او کاناډا پر ایران د اټومي پروگرام له امله نوي بندیزونه ولگول

آزادي راډیو:
د امریکا متحده ایالاتو، انگلستان او کاناډا د ایران د اټومي پروگرام پر ضد نوي بندیزونه اعلان کړل.
د امریکا د بهرنیو چارو وزیرې هیلیري کلنټن وویل، دا نوي بندیزونه په ایران ، د دغه هېواد په مالي منابعو او غیر قانوني فعالیتونو باندې یو مهم فشار دی.
د امریکا ولسمشر بارک اوباما د ایران د تیلو او طبیعي غاز په سکتور باندې د بندیزونو د پراختیا لپاره یو عاجل اجرائیوي امرلاسلیک او صادر کړ.
د ایران د رژیم د بودیجې په سلو کې اویا برخه د تیلو او غاز له خرڅلاو څخه تمویلیږي.
واشنگټن دغه راز د یو لسو کسانو نومونه په هغه لیست کې ور زیات کړل چې شتمنی او کمپنی یې قیدیږي او له دغو کسانو او کمپنیو سره هر ډول راکړه ورکړه غیر قانوني اعلان شوې ده.
د امریکا د بهرنیو چارو وزیرې هلیري کلنټن وویل، ایران د خپلو پطرولي محصولاتو زیاته برخه د تصفیه کولو په مقصد استعمالوي او دا صنعت یې له بندیزونو سره مخامخ شوی دی:
"جمهور رئیس بارک اوباما یو اجرائیوي امر لاسلیک کړی او د لومړی ځل لپاره یې په خاص ډول، د ایران د پطرولي محصولاتو صنعت په نښه کړیدی. دا صنعت د ایران د صادراتو مهمه منبع ده او د بندو شویو وارداتو تامینونکې دی."
د امریکا د متحده ایالاتو د خزانې وزیر تیموتي گیتنر وایي، د ایران مالي سکتور د پیسو سپینولو اندیښنې رامنځ ته کړې او په دې توگه واشنگټن د ایران مالي سکتور په نښه کړی تر څو له دې در که دا هېواد نور هم گوښه شي.
گیتنر وایي، د نړۍ بانکونه او کمپنی باید له ایران سره د سوداگرۍ او راکړې ورکړې د خطرونو په اړه زیات فکر وکړي:
"که چیرې تاسې د نړۍ په هرځای کې یوه مالي موسسه لرۍ او د ایران له مرکزي بانک او یا نورو ایراني بانکونو سره چې د هیواد په داخل او یا بهر کې فعالیت کوي،

پاتې ۴ مخ

پیروزی ملت ما در برابر آزمون دیگر

با آنکه دایر شدن لویه جرگه عنعنوی در اذهان سوالاتی را مطرح می نمود که شاید هواخواهان امضای پیمان استراتیژیک با ایالات متحده امریکا و مخالفان دوام پروسه صلح با مخالفین مسلح نظام بر فضای لویه جرگه چنان مسلط گردند که فیصله های جرگه در حد صحه گذاشتن بر مطالب آنها باشد اما ملت مجاهد افغان ثابت نمود که زیر هر فشاری باشد و اعمال نفوذ هر کسی و هر جهتی باشد، از عزت، آبرو، کرامت، تمامیت ارضی و استقلال سیاسی کشور شان تا آخرین رمق حیات دفاع مینماید. اینک ما به عنوان گواه فیصله های کمیته کاری سی و هفتم لویه جرگه عنعنوی را خدمت خوانندگان محترم هفته نامه شهادت به نشر می سپاریم.

خلاصه نظریات و پیشنهادات کمیته کاری (۳۷) لویه جرگه عنعنوی:

جای شک نیست که افغانستان در شرایط موجود نظر به هر چیز دیگر به صلح، ثبات و امنیت نیاز دارد. در غیر آن فرزندان این سرزمین روزانه قربانی خواهد داد، بازسازی، کارهای زیربنائی، تعلیم و تربیه فرزندان این کشور و هر آن اقدامیکه به ترقی و تعالی افغانستان منتج گردد، مقدور نبوده ...

(بقیه در صفحه دوم)

پاکستان کې د سیاسي سونامي د راتلو اندېښنې

عبدالله کامه وال

دریم مخ

د ناټو تر وتو وروسته دې ترکیه د بهرنیو ځواکونو مشري وکړي "کوکس"

تاند:
په پاکستان کې د امریکا پخواني سفیر او د سیاسي چارو کارپوه ډینیس کوکس پرون وویل، د افغانستان د ستونزې د حل لپاره پاکستان مرکزي رول لرلی شي.
د ده په وینا د افغانستان مسله د پاکستان له مرستې پرته نه شي حل کېدای.
کوکس، چې پاکستان ته تللی، د کراچۍ په یوه هوټل کې له خبریالانو سره په خبرو کې وویل، د افغانستان نور گاونډیان لکه ایران او یا هندوستان هم مهم دي خو د ده په نظر د افغانستان د مسلې د اواري لپاره تر ټولو پاکستان مهم دی.
کوکس د ۱۹۵۷ او ۱۹۵۹ کلونو ترمنځ په پاکستان کې سفیر و، وروسته د ۱۹۹۵ تر ۱۹۹۶ کلونو پورې د متحدو ایالتونو په بهرنیو چارو وزارت کې د جنوبي اسیا د چارو متخصص شو.
کوکس، چې اوس د هیرټیج تحقیقاتي انستیتیوت غړی دی، دا مسله د پریشانۍ وړ وبلله چې افغانستان له سیاسي نظره په کوم لور روان دی ځکه چې حامد کرزی د افغانستان د اساسي قانون پراساس بله دوره ځان نه شي کاندیدولی او ځرگنده نه ده چې د هغه ځای به څوک نیسي.

پاتې ۴ مخ

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

د لویې جرګې د ګډون والو مشوره ولې مثبته نه ده؟

د لړم په ۲۸ مه د ولسمشر حامد کرزي له لوري د رابلل شوې مشورتي لویې جرګې ګډونوالو چې د افغانستان له ګوټ ګوټ څخه د لویې جرګې خیمې ته راغلي وو له امریکا سره پوځي ستراتیژیک تړون او له طالبانو سره د سولې د خبرو اترو په اړه له ژورې څېړنې او سلا مشورې وروسته په غوڅ اکثریت حامد کرزي ته سپارښتنه وکړه چې له امریکا سره د لسو کلو لپاره مشروط پوځي ستراتیژیک تړون لاس لیک کړي او طالبانو سره دې هم د سولې خبرې اترې په مؤثر ډول جاري وساتي.

که چېرته د لویې جرګې ګډونوالو پر پرېکړې له تعصب پرته او په پاک ذهن غور وکړی شي نو دا حقیقت ترلاسه کېږي چې هغوی خپل افغاني او ایماني مسؤولیت په صحیح توګه ترسره کړې او امریکا ته داسې کوم امتیاز نه دی ورکړې چې د افغانانو لاسونه ورته تړلي وي بلکې پوځي ستراتیژیک تړون یې ورسره داسې مشروط کړی دی چې د افغانستان خپلواکي، ملي حاکمیت، ملي وقار او خمکنې بشپړتیا په بشپړ ډول په نظر کې نیول شوې او داسې کومه خلا یې نه ده پرېښې چې د افغانستان په تاوان وي، مشورتي لویې جرګې چې له امریکا سره د ستراتیژیک تړون د لاس لیکولو لپاره کوم شرطونه وړاندې کړې د هغوی د ټولو یادونه دلته نشي ځائېدلې خو لب لباب او لنډیز یې په مجموعي ډول په دې دلالت کوي چې د لویې جرګې ګډون والو کومه پرېکړه کړې مناسبه او پر ځای ده، په دې حاضر وخت کې لدېنه ښه او صائبه پرېکړه نه شوای کېدای.

که څه هم ځینې افغان سیاسي څېرو له وسله والو مخالفینو او ګاونډیانو د لویې جرګې د ګډون والو له پرېکړې سره خپل مخالفت څرګند کړی خو پوښتنه دا ده چې له هغوی سره لدېنه بله ښه پرېکړه او پلان کوم دی چې واقعاً د افغانستان د خاورې او ملت په ګټه وي؟

که افغانان دوه کاله وروسته له افغانستان څخه د بهرنیو ځواکونو له وتلو وروسته د امریکا په څېر هېواد سره پوځي ستراتیژیک تړون ونه کړي نو ددې خبرې ضمانت څوک ورکولې شي چې ګاونډي هېوادونه به د افغانستان سالمیت او استقلال ته نقصان نه رسوي، هلته به د خپلو ګټو د سیالۍ جنګ نه پیلوي؟ آیا تر ننه دغو هېوادونو چېرته په رسمي او عملي ډول پخپله افغان چارواکو او ملګرو ملتو ادارې ته دا وړاندیز کړی دی چې له افغانستانه د بهرنیو ځواکونو له وتلو وروسته په افغانستان کې دنه لاس وهنې ضمانت ورکولو ته چمتو دي !؟

افغان ولس به کله هم له امریکا سره د ستراتیژیک تړون د لاس لیکولو فیصله نه وه کړی خو ډېر افسوس چې د ګاونډیانو او د سیمې د ځینو نورو هېوادو بدنیتي او لالچ افغانان دېته اړ ویستل چې لږ تر لږه د خپل استقلال او افغاني هویت د ساتلو په خاطر له امریکا سره د ستراتیژیک تړون تریخ غرب تېر کړي.

که له اصل واقعیت نه سترګې پټې نه کړی شي نو دا نتیجه ترلاسه کېږي چې افغانان اصلاً دېته اړ ویستل شوي دي چې له یو چاسره پوځي ستراتیژیک تړون ته زړه ښه کړي.

د سپتمبر له یوولسمې پېښې وروسته چې کله امریکا او ناټو غړو هېوادو پوځیانو پر افغانستان یرغل وکړ نو پاکستان او ایران دهغوی بشپړ ملاتړي وو، خپله فضا او ځمکه یې دهغوی په اختیار کې ورکړی وه چې تر ننه یې په اختیار کې ده او د لوژستیکي موادو په برخه کې ورڅخه ګټه اخلي، روسیه او د منځنۍ آسیا هېوادونه هم د لوژستیکي موادو په انتقال کې ورسره مرسته کوي دا چې زموږ ګاونډي او د سیمې نور هېوادونه پخپله له امریکایي او ناټو ځواکونو سره هر اړخیزه مرسته کوي نو بیا یواځې افغانان له امریکا او نورو هېوادو سره پر ستراتیژیکو تړونونه ولې ملامتوي؟ آخر د یو بام دوه هوا منطق به څنګه منل کېږي، که هغوی ورسره هر اړخیزه مرسته کوي او خپله فضا او زمکه ورته په واک کې ورکړي نو خیر دی او چې افغانان ورسره شفافه او د محدود وخت لپاره مشروطه ستراتیژي تړون لاسلیک کوي نو هغه جرم ګڼل کېږي !؟

که واقعاً د امریکا پوځي شتون په افغانستان کې د ګاونډیانو لپاره خطر وي یا هم تر ښه خطر احساسوي نو بیا له دې نه د خلاصون مسؤولیت یواځې پر افغانانو ولې اچول کېږي؟ آیا افغانان په یواځې ځان چې د دیرشو کلو راهیسې زیات ځاني او مالي تاوان سره مخامخ دي او په نورو هېوادونو کې هم د پناه ځای نه لري ددې صلاحیت لري چې د نړۍ تر ټولو سترو پوځي ځواکونو سره جګړه پرمخ بوځي !؟

که ګاونډي هېوادونه واقعاً د زړه له کومې په افغانستان کې د امریکا له شتون سره مخالفت لري نو بیا دې زغرده دهغوی په خلاف خپل غږ پورته کړي.

که داسې نه کوي نو بیا د افغانستان وګړي کوم لیوني سپي چیچلي دي چې قرباني دې دوی وړاندې کړي او ګټه دې په مفتو کې ګاونډیان او د سیمې نور هېوادونه ترلاسه کوي.

آیا ګاونډي هېوادونه له دې حقیقت نه انکار کولې شي چې هغوی د تېرو لسو کلو راهیسې د امریکا ملګرتیا کړی او دهغوی په راتلو کې برابر شریک دي؟

مګر په ویستلو کې یواځې له افغانانو قرباني غواړي چې په یواځې ځان افغانان دا مسؤولیت نه شي اخستلې.

که ګاونډي او د سیمې هېوادونه په افغانستان کې د امریکا د پوځي اډو زغم نه لري نو بیا دې لږ تر لږه له همدې اوس نه خپل دریځ روښانه کړي دهغې په خلاف دې ثابت ګامونه اوچت کړي افغانانو ته دې د ملګرو ملتو په اداره کې په افغانستان کې دنه لاسوهنې پوخ ضمانت ورکړي.

که داسې کولو ته نه تیارېږي او هسې افغانان د آلې په توګه استعمالوي دا نو د افغانانو له وسه نه ده پوره او نه هم په دې کار کې څوک ملامتولې شي څکه چې افغانانو دا کار پخپله خوښه نه، بلکې د ګاونډیانو او د سیمې د نورو هېوادو په نامردیو او ناکردو ترسره کړې، که دوی نن هم د افغانستان په اړه خپل دریځ روښانه کړي نو د افغانستان ولس به له هېچانه وروسته پاتې نشي.

پیروزی ملت ما در برابر آزمون دیگر

(ادامه از صفحه اول)

... و دائرهٔ حاکمیت دولت نیز روز تا روز تنگ تر می گردد.

یکی از دلایل عمده مخالفین نظام برای تداوم جنگ حضور نیروهای خارجی در افغانستان می باشد، از جانبی حساسیت و مخالفت بعضی کشورهای همسایه و منطقه نیز با موجودیت قوت های خارجی در افغانستان روز افزون گردیده و جنگ جاری در این کشور یک شکل پیچیدهٔ عقیدتی، استخباراتی و نظامی را بخود گرفته است.

در همچو حالات اگر عقد پیمان استراتیژیک بین افغانستان و ایالات متحده امریکا، صلح و امنیت عاجل را در پی نداشته باشد، جنگ جاری در کشور از مهار کردن که به نظر ما تا حال مقدور است بصورت قطع خارج و نتایج زیان بار، تحمل ناشدنی و خطرناکی را برای جانبین عقد کنندهٔ پیمان در قبال خواهد داشت.

نظریات و پیشنهادات کمیته (۱۷) کاری که باید به ارتباط عقد پیمان در نظر گرفته شود قرار آتی بر شمرده می شود.

۱- حکومت باید خود را مکلف بداند که این پیمان را بعد از امضاء با ایالات متحده امریکا، بر اسرع وقت جهت طی مراحل قانونی به شورای ملی بفرستد، تا از جانبی تشویش ملت افغان رفع و از طرف دیگر مخالفین داخلی و خارجی نه فرستادن آنرا به پارلمان وسیله تخریب و تبلیغات علیه دولت نه سازد.

۲- هیچ ماده یی از پیمان که مغایر معتقدات اسلامی ما باشد نه باید در توافقنامه گنجانیده شود.

۳- استقلال، تمامیت ارضی، ارزش های ملی و حاکمیت دولت افغانستان جداً درنظر گرفته شود و هر آن خواسته جانب مقابل که ارزش های فوق را خدشه دار سازد، بصورت قطع از آن پرهیز صورت گیرد.

۴- آمد و رفت، بودو باش و گشت و گذار امریکایی ها در داخل و بیرون از قرار گاه های اختصاصی باید قانونمند باشد، و در شهرها و قرای افغانستان نه باید گشت و گذار غیر ضروری داشته باشند. و تمام تحرکات محاربوی به سوق و ادارهٔ وزارت دفاع افغانستان صورت گیرد.

۵- با انفاذ این پیمان، پیمان های مرتبط ما قبل بر این ملغاء قرار داده شود.

۶- تضمین قوی بین المللی گرفته شود که خلاف پیمان عمل صورت نگیرد.

۷- فسخ، تجدید و یا تمدید پیمان بعد از تصویب شورای ملی وقت صورت گیرد.

۸- ستر امنیتی سرحدات و جلوگیری از تعرض اجانب بالای خاک افغانستان باید از مکلفیت های طرفین پیمان باشد.

۹- به موجودیت و قرارگاه های تروریزم در خارج از سرحدات افغانستان باید چشم پوشی نه شود و مقابله با اوشان هم در محلات ترینتگ و قرارگاه های شان صورت گیرد، نه در قریه جات افغانستان.

۱۰- تربیه و تجهیز ارگان های امنیتی تا سرحدی که توان دفاع از حریم خاک کشور را پیدا کند و همچنان اکمال ارگانهای امنیتی تا زمانیکه دولت افغانستان توان اقتصادی چنین اکمالات راداشته باشد.

۱۱- میدان های هوایی تخلیه و حکومت افغانستان باید کنترول کامل بالای زمین و فضای خود داشته باشد.

۱۲- کنترول زندان ها در داخل به افغان ها واگذار و زندان های خارج از افغانستان بصورت فوری ختم شود، همچنان تحقیقات از زندانیان کاملاً افغانی باشد.

۱۳- کمک های اقتصادی باید برای زیربناهای افغانستان، مهارت های علمی، استخراج معادن و آشنائی با تکنالوژی عصری، و بصورت مکمل از طریق حکومت افغانستان صورت گیرد.

۱۴- در امور دولت افغانستان باید به هیچ عنوان مداخله صورت نگیرد.

۱۵- این پیمان نه باید بر ضد هیچ کشوری از جهان بکار گرفته شود، و همچنین افغانستان باید در عقد همچو پیمان ها با کشورهای دیگر جهان دست آزاد داشته و نباید عقد قراردادهای دیگر منافی با مفاد این پیمان شمرده شود.

۱۶- هر تبعهٔ خارجی باید به قتل مردم بیگناه افغان مطابق قوانین افغانستان محاکمه شود.

۱۷- اولاً حکومت، رئیس صاحب دولت و هیئت مؤظف تخنیکی تحلیل و ارزیابی مواد پیمان ستراتیژیک مشوره های کمیته های کاری را دقیقاً، جداً و کلاً درنظر بگیرند و طبق آن موقف گیری نمایند، دوم اینکه مادهٔ در پیمان گنجانیده شود که اگر یکی از طرفین در جریان ده سال از تعهدات خویش عدول نماید جانب دیگر حق دارد قرارداد را فسخ شده اعلان نماید.

موږ زمریان یو

محمد خلیل

د لړم په پنځه ویشتمه د مشورتي لویې جرګې ګډونوالو ته د افغانستان ولسمشر ښاغلي کرزي صیب وویل: موږ زمریان یو، زمریان کله هم د بل چا تر پاچاهۍ لاندې وخت نه تېروي.

په انسانانو کې هغه چاته زمري ویل کېږي چې د زمري په څېر د زړه ور توب صفت ولري، حضرت محمد صلی الله علیه وسلم حضرت علی کرم الله وجهه ته د اسدالله (د خدای شېر) لقب هم پدې خاطر ورکړی و چې هغه د دښمن په وړاندې د زمري په څېر زړه ور و.

په دې کې هېڅ شک نشته چې افغانان د نړۍ په تاریخ کې د زړه ور توب یو نه هېرېدونکی ریکارډ لري او هېڅوک دهغوی له دغه زړه ور توب نه انکار نه کوي، خو د فکر وړ خبره دا ده چې آیا بریالیتوب یواځې په زړه ور توب کې دی او که نورو کمالاتو ته هم ضرورت دی !؟ په انساني تاریخ کې دا خبره ثبوت ته رسېدلې ده چې زړه ور توب تر هغه څه ګټه نه لري تر څو پورې چې د بریالیتوب نور غوره او ضروري صفات یې په ځان کې نه وي پیدا کړي، مثلاً علم، پوهه، حکمت، پیاوړې اقتصاد، هنر، ذکاوت، روغتیا، جنګي مهارت، ښه پلان او داسې نور.

حضرت سعدی رحمة الله علیه په ګلستان کې وایي چې څو تنه مسافر په یوه کشتۍ کې سواره وو په هغوی کې یو پهلوان ځوان د سورلیو په تنګولو شروع وکړ تر دې چې د کشتۍ چلوونکي هم تر پوزې راغې او له هغه نه د خلاصون پلان یې جوړ کړ، کشتۍ یې د سمندر په غاړه کې یوې ولاړې ستنې ته ودروله او پهلوان ته یې وویل: ته په موږ کې غښتلې او پهلوان یې دغه ستنې ته له تا پرته بل څوک نه شي ختلې، که ته ونه خېژې او د کشتۍ پرې د ستنې په سر ونه تړې نو کشتۍ به په اوبو کې ډوبه شي، پهلوان چې ستنې سرته وخوت نو د کشتۍ چلوونکي خپله کشتۍ روانه کړه او پهلوان یې همغلته د ستنې په سر پرېښود، پهلوان ډېرې چیغې ووهلې خو له ناکامۍ پرته یې هېڅ ترلاسه نه کړ. سعدي صاحب لیکي: عقل او تدبیر له قوت نه ښه دی، هغه قوت اوځواک چې له عقل اوتدبیر نه عاري وي هېڅ ګټه نه لري.

له څه شک پرته زړه ور توب یو ښه او غوره صفت دی خو له زړه ور توب سره، عقل، مهارت، زغم او ښه منصوبه بندي هم ضروري دی، که یواځې په زړه ور توب بریالیتوب ترلاسه کېدای شوه نو زمري به کله هم په ژوبڼ کې د اوسپنیزو پنجرو شاته د انسانانو رحم او کرم ته نه و پروت. که څه هم په انساني تاریخ کې افغانانو د جنګ او جګړې په میدان کې له بل هر چا زیات زړه ور توب او قهرماني ښودلې خو د علم، پوهې او مهارتونو په ډګر کې د نړۍ له نورو وګړو څخه ډېر وروسته پاتې دي نو څکه نورو ته یې د ګدائي لاسونه نیولې دي او هغوی ددوی له دغو مجبوریتونو څخه ناوړه ګټه اوچتوي. افغانان باید له دې واقعیت نه سترګې پټې نه کړي چې دهغوی د زړه ور توب ترڅنګ سیاسي بصیرت، علم، پوهې، پیاوړې اقتصاد، زراعت، ټیکنالوژي، پوځي مهارت او ښه پلان ګذاري ته اړتیا لري، په یواځې زړه ور توب د برې ډګر ته رسېدل ناشوني ده تش زړه ور توب د ساینس او ټیکنالوژي په وړاندې صفر دی، نور هغه زمانه تېره شوې ده چې د جګونو فیصله د تورو په شرنګهار کې وشي او هغه څوک د جنګ ګټونکي او قهرمان شي چې زړه ور وي، موږ پخپلو سترګو وینو چې د نړۍ ډېر بې زړه قومونه نن د خپلو ساینسي علومو او مهارتونو په برکت ښه بریالي ژوند لري، د هر ډول نعمتونو څخه برخمن دي او د افغانانو په څېر زړه ور زمریان دهغوی مرستې ته سترګې په لاره دي نه ډاکتر لري نه درمل، نه مجهز لابراتوارونه لري او نه هم روغتونونه، نه زراعت لري او نه هم صنعت او تجارت، نه توپ لري نه ټانک او توغندي، نه الوتکې لري او نه ټیکنالوژي، بلکې د ژوند په ټولو څانګو کې داسې کنګال دي چې په دې پرمختللې زمانه کې څوک د ډسپرین او پیراستامول د جوړولو مهارت هم نه لري، آخر په انساني ټولنه کې داسې زمری به څنګه پخپل زمری توب فخر وکړي چې د خپل ژوند د ساتلو لپاره بل چاته د تمې سترګې نیولې وي او د بل چا په خیراتونو شپې ورځې سبا کوي.

دې لپاره چې افغانان واقعي زمریان شي او خپل ژوند د نورو له محتاجۍ نه پرته ترسره کړي نو ددې خبرې ضرورت دی چې د علم، مهارت او د نوی زمانې پرمختللیو علومو څخه خپله جولۍ ډکه کړي او په دې توګه د ګیدړانو تر قیادت لاندې د ذلت ژوند له تېرولو څخه خلاصون ترلاسه کړي.

پاکستان کې د سیاسي سونامي د راتلو اندېښنې

نن سبا د پاکستان د سیاسي هوا حالات ګډوډ یعنې هره ورځ د تودوخې په لوړه او ټیټه درجه کې له حده زیات بدلون لیدل کیږي، په هوا کې وریځې ګرځي، د برېښنا ګرز ګروز اوریدل کیږي او ځینې کارپوهان خو ان لا د یوې احتمالي سیاسي سونامي راتلو اندېښنې هم ښکاره کوي.

که څه هم د دې هېواد په څلور شپېته کلن تاریخ کې د څو پوځي کودتاګانو او د پوځ د اوږدې واکمنۍ تر څنګ تر ډیره ملکي حکومتونه د پوځ او استخباراتي ادارو په اشارو او مشورو چلیږي او د کارپوهانو په باور چې چاته یې په اصطلاح زړه تنګ شي نو په یوه او بله پلمه او یا هم د ټوپک په زور یې له واکه لرې کړي.

سره له دې، چې کال دوه وړاندې داسې ویل کېدل، چې د واکمن پیپلز ګوند چې جمهوري ریاست او د عظمي صدارت دواړه یې په واک کې دي او د پالیسي جوړوونکیو ادارو ترمنځ اړیکې نورمالې دي خو په دې وروستیو کې لکه څنګه چې د اسلام اباد او واشنګټن ترمنځ په اړیکو کې خرپړتیا رامنځته شوې همداشان د کیاني او زرداري ترمنځ اړیکې هم په وریځو کې ډوبې ښکاري.

پاکستاني مطبوعات په دې اړه له تیرو څو میاشتو راهیسې ډول ډول تبصرې کوي،څوک د ښاغلي زرداري حکومت د څو میاشتو میلمه ګڼي او څوک بیا دغه اندېښنې ردوي او په دې باور دي،چې نوموړي د خپل سیاسي بصیرت له مخې په ډیرو سختو حالاتو کې ددغو ادارو فشار څغملی او په ډېرې هوښیارۍ یې ځان بچ ساتلی.

خو کله،چې د روان میلادي کال د اکتوبر پر لسمه نېټه د برتانیې په یوه مشهوره ورځپاڼه کې د پاکستاني نژاده امریکایي لیکوال منصور اعجاز لیکنه خپره شوه نو نه یواځې دا،چې د ښاغلي زرداري واکمنې یې له ګواښ سره مخ کړه بلکې په پوځي حلقو کې هم اندېښنې زیاتې شوې.

منصور اعجاز چې ویل کیږي له عالي رتبه امریکایي چارواکیو او پوځي مشرانو سره نږدې

عبدالله (کامه وال)

اړیکې لري په خپله دې لیکنه کې ادعا کړې چې په واشنګټن کې د پاکستان سفیر حسین حقاني د امریکا د ګډو خواکونو د هغه وخت د عمومي مشر امیر البحر مایک مولن په نوم د پاکستان د جمهور رئیس آصف علي زرداري یولیک ورته سپارلی،چې پکې له نوموړي څخه د سمدستي مرستې غوښتنه شوې.

د لیکوال په خبره زرداري مایک مولن ته لیکلي چې داسې نخښې نښانې شته چې لوی درستیز جنرال اشفاق پرویز کیاني غواړي دده حکومت د یوې پوځي کودتاه له لارې وپرځوي.

زرداري په دې احتمالي لیک کې له مایک مولن نه مرسته غوښتې ترڅو د کیاني ددې اقدام په مخنیوي کې عاجل اقدامات وکړي.

که څه هم وروسته په امریکا کې د پاکستان سفیر حسین حقاني،پخپله زردای، صدراعظم او نورو عالي رتبه دولتي مقاماتو ددغسې یوه لیک لیږل په کلکه رد کړل خو د کارپوهانو په باور د ملکي چارواکیو دغو څرګندونو نه یواځې دا چې د کیاني اندېښنې لرې نه کړای شوې بلکې د نوموړي غوسه لا هم نده سړه شوې.

بل پلو د اپوزیسیون یوشمیر لویو او وړو ګوندونو هم د زرداري پر دې لیک سخت غبرګون ښودلی.

څو اونی وړاندې دپاکستان تحریک انصاف ګوند مشر عمران خان دلاهور ښار په مینار پاکستان سټیډیم کې یوه نوی خبره وکړه اوهغه خبره دا وه چې دپاکستان ولسمشر زرداری دامریکا دپوځ سرلښکر ته په یو لیکلی پیغام کې دپاکستاني فوځ دخپلو وړاندیز شوی هغه مهال خلکو داسې ګڼله چې ګوندی دایو سیاسي پروپاګند دی خو اوس دا ثابته شوه چې دعمران خان څرګندونی سمی دی د دې لیک په ښکاره کېدو پاکستان کې دننه سخت غبرګونونه ښکاره شوی اوترڅنګ یې داهم ویل کیږي چې عمران خان څنګه اوچا له دې لیکه خبر کړ سیاسی شنونکی پدې اند دی چې دتحریک انصاف ډله چې مشری یې عمران خان کوي داستخباراتی کړیو سره اړیکې لري د دوی په اند په لګه موده کې د دې ګوند دومره چټک پرمختګ او د داسې مهمو اوپټو موضوعاتو خبریدو ترشا څه شته خو دتحریک انصاف ډله بیا داخبره په کلکه ردوی او وای چې دپخوانیو ګوندونو داختلاص او غبن له امله په ولس کی محبوبیت له لاسه ورکړی خو دواکمن نظام په هکله بیا دټولو سیاسی ګوندونو دریځ یو دی اووای چې دحکومت په فسادکی ترستونی ډوب دی.

دمسلم لیګ ډلې مشر اوپخوانی صدراعظم میاه نوازشریف تیره ورځ حکومت ته لس ورځې وخت ورکړ چې دا خبره په سمه او ربښتینې توګه سپینه کړي،کنه نو سترې محکمې ته به مراجعه وکړي،څکه چې په خبره یې د زرداري له لوري د خپلې څوکی د خوندي ساتلو لپاره له امریکا نه مرسته غوښتل نه یواځې د پاکستان د پوځ بلکې د ټول ولس توهین او سپکاوی دی.

د منصور اعجاز له ټینګار،د پاکستاني سفیر له انکار او لنډه دا چې له اوږدو ناندریو وروسته په واشنګټن کې د امریکا سفیر د جمهور رئیس په امر اسلام اباد ته رارسیدلی ترڅو د پوځي مقاماتو پر وړاندې ددې خبرې سپیناوی وکړي.

خو دا به راتلونکې ورځې ثابتوي،چې پوځ به په دې باب څه اقدام کوي؟

ایا یواځې د حسین حقاني په ګوښه کولو سره به خبره حل یا غلې شي او که نه ددې هیواد زورور پوځ به له دې ور اخوا هم څه ګامونه پورته کړي.

دپاکستان دسیاستوالو پدی کلکو غبرګونونو می د افغانستان سیاسیون مخ ته ودریدل چی یواځی په خپلو ګټومصروف دی نه یی بهرنی فرهنګی یرغل ته پام دی اونه نظامی یرغل ته خو بس یواځی یواځی پدی بوخت دی چی څنګه دبهرنیو هیوادو سره اړیکی ټینګی کړی اوڅنګه په بهرنیو هیوادو کی کورونه او مارکیټونه واخلی زموږ دسیاستمدارو تبصری اونیو کی یو اړخیزی اوله عقدو ډکی وی ټولی تبصری یواځی دنظام دنسکوریدو اوعامه اذهانو دمشوش کید پرته نو هیڅ هم نه لری.

د موبایل یا ګرځنده تیلیفون له لارې څوک څنګه تعقیبیدلای شي؟

لکه څرنګه چه نړۍ ورځ تر بلې د پرمختګ ګامونه اخلی نو له همدې سره سره د خلکو په ذهنونو کی د نوی ټکنالوژۍ په اړه مختلف سوالونه هم پیدا کیږی. چه یو له دغو عمده سوالو څخه چه زمونږ د هیوادوالو په ذهنونو کی ګرځی هغه د مبایل پواسطه د یو شخص پیدا کیدل او تعقیبیدل دی.

ډیرو خلکو له ما ځنی دغه سوالونه هم کړی او حتی ځنی خلک خو لا په دی عقیده دی چه که ګرځنده تیلیفون ګل)خاموش(هم وی د تعقیبیدلو امکان لری.

لکه څرنګه چه دغه د ګرځنده تیلیفونونو ټکنالوژۍ د نړۍ نورو خلکو ته په نسبت د افغانانو ډیره روښانه ده او نړیوال امکانات ډیر لری چه د یوی موضوع په هکله معلومات پیدا کړی، نو له همدی وجی می وپتیله چه د دغه د ګرځنده تیلیفونو په هکله یو څه معلومات خپلو هیواد والو ته وړاندی کړم.

سوال په دی کی دی چه آیا د ګرځنده تیلیفون د لاری یو شخص پیدا کیدلای شی او یا تعقیبیدلای شی که نه؟ جواب داسی دی چه بلی هو.

په دوه لارو پیدا کیدلای او تعقیبیدلای شی.

۱- د سیم کارت د لاری:

کله چه یو سیم کارت په ګرځنده تیلیفون سیټ کی واچول شی او روښن کړل شی نو سیم کارت اتومات د تیلیفون له دستګاه سره ځان رجستر کوی چه دی ته په انګلیسی کی لوکیشن

لیک : انجنیر سید احمد شاه سادات

آپډیټ هم وایی یعنی د موقعیت معلومول خپل تیلیفونی شبکی دستګاه ته.

سیم کارت د ګرخنده تیلیفون دستګاه ته وایی چه زه فلاني نمره د فلانی بی ټي ایس نه سګنل اخلم او دغه می موقعیت دی. هر سیم کارت د اصلی مخابراتی شرکت سره په دستګاه کی چې ایچ ایل آر ورته وایی ثبت وی.

نو چه کله سیم کارت د رجستریشن درخواست کوی نو د ګرخنده تیلیفون دستګاه ایچ ایل آر یی پیژنی او د ثبتیدو اجازه ورته ورکوی. په عین وخت کی دستګاه بیا دغه سیم کارت باندی قید او شرط ږدی چه د بیلګی په ډول که رومینګ اجازه لری یا نه لری، ټکس یا تیلیفون کولی شی او که نه شي. کریډیټ لری که نه لری او داسی نور...

غواړم چه فقط د موقعیت په هکله خبری وکړم او موضوع رانه اوږده او بلی خواته لاړه نه شی. نو کله چه د ګرخنده تیلیفون سیم کارت د دستګاه سره راجستر شو نو په هره لحظه کی ګرخنده تیلیفون سیم کارت دستګاه ته خبر ورکوی چه زه دلته یم. چه دی ته په انګلیسی کی د مخابراتی علومو په ژبه کی هندشیک)یعنی ستړی مه شی(وایی. په بل عبارت دستګاه سیمکارت ته وایی چه چیرته یی او سیم کارت ورته خپل ځای ښایی وایی دلته یم. دغه هندشیک په یوه دقیقه کی تر سل وارو زیات وی. ځینی تیلیفونونه یو وړکی شین ګروپ لری چه هره شیبه کی پړقیږی. دغه پړقیدل د هند شیک سیګنل وی چه د دستګاه سره په تماس کی وی.

بیا په ګرځنده تیلیفونو دستګاه کی دوه نوری آلی دی چه یو ته یی ټایمینګ اډوانس او بل ته ټراینګولیشن وایی او د هغه په ذریعه یو شخص د خپل موقعیت په اته ۸ مترۍ کی پیدا کیدلای شی.

که څوک خپل ګرخنده تیلیفون ګل)بند(کړی نو چه کوم ځای کی ګل شوی وی په دستګاه کی همغه ځای د اخر ځل لپاره ثبت پاتی وی. د مثال په طور که د کابل د ارګ د دروازی تر مخ دی مبایل بند کړ نو دستګاه ته دا معلومه وی چه اخری ځای چه د ستا په اړه معلومات ثبت دی هغه د ارګ د دروازی مخه ده. کیدای شی ته همالته یی او کیدای شی له هغه ځایه تللی یی خو دستګاه د ستا اخری ځای ارګ پیژنی چه تر څو بل ځای کی خپل ګرخنده تیلیفون روښانه نه کړی.

۲- د ګرځنده تیلیفون د سیټ د لاری:

د ګرځنده تیلیفون د سیټ د لاری هم یو شخص پیدا کیدای او تعقیبیدای شی. او هغه داسی چه کله هم په ګرځنده تیلیفون سیټ کی سیم کارت واچوی نو چه کله خپل مبایل روښن کړی د سیم کارت د لاری د دغه سیټ نمبر چه هر یو سیټ خانته یو خاص نمبر لری د دستګاه سره ثبتیږی. ...

پاتې څلورم مخ

د اسلامي تاریخ لومړنۍ پېښې

ژباړه: دکتور عبد الوهاب (حسام)

(اته ویشتمه برخه)

س۴۷۴: په ورځ دقیامت به څوک لومړي دښمنان وي؟

ځ: لومړي دښمنان به په ورځ د قیامت ګاونډیان وي. د عقبه بن عامر نه روایت دی وایي: چې پیغمبر علیه السلام فرمایلي دي: په ورځ د قیامت کې به لومړی دښمنان ګاونډیان وي. جامع صغیر و ګوره.

س۴۷۵: لومړی شی چې خلک به د حشر میدان ته وړي څه شی وي؟

ځ: طیالسي د أنس رضي الله عنه نه روایت کړی دی چې: پیغمبر علیه السلام فرمایلي دي: لومړی شی چې خلک به د حشر میدان ته پنډوي اور دی، او دا اور به خلک د شرق نه غرب ته پنډوي. جامع صغیر و ګوره.

س۴۷۶: لومړی شی چې د دي امت نه به پورته کړی شي څه به وي؟

ځ: طبراني د ابو درداء نه روایت کړی وایي چې پیغمبر علیه السلام فرمایلي: لومړی شی چې د دي امت نه به پورته کیږي هغه خشوع (تواضع) ده، تر دي چې متواضع سړی به و نه ګوري. همدا رنګه طبراني د شراء بن اوس رضي الله عنه نه روایت کړی وایي: پیغمبر علیه السلام فرمایلي: لومړی شی چې د خلکو نه به پورته کیږي هغه خشوع (تواضع) ده. جامع صغیر و ګوره.

س۴۷۷: په مځکه کې د مسجد حرم نه وروسته لومړی جوړ شوی مسجد کوم دی؟

ځ: د مسجد حرم نه وروسته په مځکه کې لومړی جوړ شوی مسجد، مسجد اقصی دی. احمد، بخاري، مسلم او نسائي روایت کړی وایي: پیغمبر علیه السلام فرمایلي: لومړی مسجد چې په مځکه کې جوړ شوی مسجد حرم دی وروسته مسجد اقصی او د دواړو ترمنځ څلویښت کاله فرق و، په کوم یو کې چې د لمانځه وخت راورسید هلته لمونځ و کړه په همدي کې برکت دی. جامع صغیر و ګوره.

س۴۷۸: چا لومړی د ابراهیم علیه السلام دین بدل کړ؟

ځ: طبراني د ابن عباس نه روایت کړی وایي: پیغمبر علیه السلام فرمایلي دي: عمرو د لحی خوي د قمعه لمسی د جندب کړوسی او د خزاعه پلار لومړی سړی و چې د ابراهیم علیه السلام دین یې بدل کړ. جامع صغیر و ګوره.

س۴۷۹: د قیامت په ورځ به څوک لومړی راغوښتل کیږي؟

ځ: بخاري د ابو هریره نه روایت کوي: پیغمبر علیه السلام فرمایلي: لومړی شخص چې د قیامت په ورځ به راغوښتل کیږي آدم علیه السلام دی، هغه ته به خپله اولاده و ښودله شي، او ورته به و ویل شي چې دا ستاسي پلار آدم علیه السلام دی، هغوي به و وایي: (لبیک و سعدیک) بیا به الله پاک آدم علیه السلام ته و فرمایي: د ددي خپلي اولادي نه دی د دوزخ ډله را وباسه، آدم علیه السلام به و وایي: یا الله څومره را و باسم؟ الله به ورته و فرمایي: ۹۹ سلنه: صحابوو د پیغمبر علیه السلام نه و پوښتل، یا رسول الله ! که ۹۹ سلنه لمونږ څخه واخستل شي نو مونږ ته به تري څه پاتي شي؟ پیغمبر علیه السلام ورته و فرمایل: زما امت په امتونو کې داسي مثال لري لکه په تور غوایي کې یو سپین ویښته. جامع صغیر و ګوره.

س۴۸۰: د اسلام لومړی رکن څه شی دی؟

ځ: د اسلام لومړی رکن د شهادت کلمه (اشهد أن لا اله الا الله و أن محمدا رسول الله) دی.

س۴۸۱: د کامیابی لومړی سبب څه شی دی؟

ځ: د کامیابی لومړی سبب ایمان دی.

س۴۸۲: لومړی شریعت چې د عقیدي لرلو ازادي یې ور کړي کوم دی؟

ځ: لومړی شریعت چې د عقیدي لرولو ازادي یې ور کړی اسلام دی.

س۴۸۳: لومړی کار چې مسلمانانو د پیغمبر علیه السلام د وفات نه وروسته و کړ څه شی و؟

ځ: لومړی کار چې مسلمانانو د پیغمبر علیه السلام د وفات نه وروسته و کړ هغه د خلیفه ټاکنه وه، آن تر دي چې خلیفه ټاکنه یې د پیغمبر علیه السلام په دفن او تکفین مخکې کړه.

س۴۸۴: د حدیثو کوم کتاب لومړی د روایتونو په اساس جوړ شوی؟

ځ: بخاري د حدیثو لومړی کتاب دی چې د روایتونو په اساس جوړ شوی دی.

س ۴۸۵: لومړی مسلمان مفکر چې د یوناني تقلیدي تصنیف خلاف یې د تصنیف لپاره نوی شکل جوړ کړ څوک و؟

دکتور عبد الکریم عثمان وایي: د علومو تصنیف (تقسیم) یو د هغه مهمو شیانو نه دی چې زمونږ حکیمان په کې پوره ونډه لري. او لومړی مسلمان مفکر چې د علومو په هکله یې د یونان تقلیدي تصنیف پریښود او د مسلمانانو لپاره یې داسي یو نوی عام تختیط (تقسیم) جوړ کړ چې په اساس یې علوم په دوه ډوله تقسیمیږي چې یو ډول یې فلسفي علوم او بل ډول یې دیني علوم دي، په فلسفي علومو کې د ریاضیاتو، منطق، طبیعي، اخلاق او سیاست نه بحث کیږي، او په دیني علومو کې د اصول دین، عقائدو، توحید او په بدعتیانو او مخالفینو باندي رد کیږي، او دا تصنیف یا تقسیم یو اساس و ګڼل شو چې د کندي نه وروسته علماو لکه فارابي، خوارزمي او ابن سینا د یو عادي تعدیل په ترځ کې تطبیق کړل.

(نور بیا)

افغانستان د نړۍ په رسنيو کې

د لويې جرگې شرايط سخت دي

والستريټ ژورنال:
د امريكا چاپ والستريټ ژورنال ورځپاڼې د دوديزې لويې جرگې په باب ليكنه خپره كړې، خو يوې بريتانوي ورځپاڼې ډېلي ټيليگراف په هلمند كې د غوره امنيتي وضعيت مسئله څېړلې ده.

لومړى هم والستريټ ژورنال ورځپاڼه، چې د خپلې مقالې په سر كې يې ليكلي:

امريكا ويلي د لويې جرگې د پرېكړو له كبله خوشحاله شوې ده. دغه جرگه د شنبې په ورځ پايته ورسېده، چې تر دوه زره زياتو كسانو په كې برخه اخيستې وه.

دغه جرگه له امريكا سره د افغانستان د ستراتيژيك سند د لاسليك په اړه د مشورې لپاره رابلل شوې وه چې څلور ورځې روانه وه، جرگې داسې شرايط مطرح كړي چې د ورځپاڼې په باور ښايي د افغانستان او امريكا ترمنځ معامله خرابه كړي.

د لويې جرگې تصاميم د دې سبب شول چې د يكشنبې په ورځ د ننگرهار پوهنتون محصلين مظاهره وكړي او طالبانو هم دغه پرېكړې وغندلې.

طالبانو د يكشنبې په ورځ وويل، دغه پرېكړه ليك به په سيمه كې د ټكان وركوونكو حساسيتونو د ايجاد سبب شي او بدمرغه افغانستان به د اوږدې مودې لپاره د جنجالونو په مركز بدل شي.

ورځپاڼه زياتوي:

د دوديزې لويې جرگې اكثر غړي د دولتي چارواكو له منځ څخه ټاكل شوي وو او بې له شكه چې دوى د ولسمشر كرزي ملاتړ كاوه.

د والستريټ ژورنال ورځپاڼې د مقالې په دوام راغلي:

له امريكا سره د معاملې لپاره د جرگې په شرايطو كې د افغانستان محاكمو ته د امريكايي ځواكونو راوستل هم شامل دي چې د امريكا په وړاندې د كرزي جدي دريځ راتلونكې مذاكرې ستونزمنولاى شي.

ډيلي ټيليگراف ورځپاڼه:

د بريتانيا چاپ ډېلي ټيليگراف ورځپاڼې بيا په هلمند كې پر روان امنيتي وضعيت تبصره كړې. ورځپاڼه ليكي: نومبر هغه مياشت ده چې د بريتانيا پوځ ته په دوديز ډول د دوى د جگړې مړي وريادوي. داسې ښكاري دا مياشت په افغانستان كې د ډېره بريتانوي ځواكونو د تلفاتو له مخې د روان كال تر ټولو خونړۍ وي: د مياشتې له پيله په هلمند كې پنځه بريتانوي سرتېري وژل شوي دي. له دغو غمونكو وژنو سره- سره په دغه ولايت كې چې يو وخت لانجمنه سيمه گڼل كېده ځينې مثبت پرمختگونه هم شته.

سياستوال او پوځي چارواكي له كابله ورته سفر كوي چې دلته سياسي پرمختگ او په دغه ولايت كې د افغان پوځ "موډله" لېوا وگوري.

په كليوال اقتصاد كې هم د لويو بدلونونو ځينې نښې ښكاري، د مركز لښكرگاه د سړكونو تر څنگ نوي وارد شوي ټراكټورونه كتار ولاړ ښكاري او داسې برېښي چې د شتمنو كروندگرو به وي. كرنه د دغه ولايت مهمه عايداتي سرچينه ده.

د ناټو او افغان ځواكونو په مرسته د هلمند ۱۸۰ زره كروندگر وتوانېدل د ترياكو پرځاى د انارو او گازرو (زردكو) كښت ته مخه كړي.

څه باندې دوه كاله مخكې د بريتانيا پوځ هڅه كوله داسې تصور وركړي چې ټول عمليات يې له افغان پوځيانو سره په گډه ترسره شوي.

ورځپاڼه ليكي، دا مهال د پوځي عملياتو لپاره د افغانانو واك، لوى خطرونه او نور تلفات په ځان پسې لري.

مخكې افغان پوليسو ته د وسلوالو ملېشو په سترگه كتل كېدل خو اوس په تدريجي ډول د جوړېدو [شكل گيرى] په حال كې دي.

د بريتانوي ځواكونو يوه افسر ډېلي ټيليگراف ورځپاڼې ته ويلي: "افغانان بايد پوه شي چې موږ يې له هېواد څخه وځو، دوى بايد په پښو ودرېږي."

د موبايل يا گرځنده تيليفون ...

د گرځنده مبايل سيټ نمبر ته (اى ايم ايى اى) وايى. يعنى انټرنشنل مبايل ايكوپمينټ آيډينټيټى او دا د گرځنده مبايل د آلى يوازينى نمره ده چه په دى نمره بل سيټ وجود نه لرى او دغه نمره د مبايل د توليدونكى شركت لخوا په مبايل كى پروگرام شوى وى او د محوه كيدو امكان نه لرى.

دغه آى ايم ايى اى ۱۵ عدده وى او تاسى يى كولاى شئ چه د خپل مبايل دغه نمره د بطرئ لاندى په مبايل كى په ليكلى بڼه ووينئ او يا د مبايل په شيشه كى درته ښكاره شى.

كه غواړئ چه دغه نمره دخپل گرځنده تيليفون په خپل گرځنده تيليفون شيشه كى يى ووينئ نو لاندى حروف وليكئ او د خپل گرځنده تيليفون دغه اى ايم ايى اى به درته ظاهره شى (ستورى هش صفر شپږ هش).

#06#

دغه اى ايم ايى اى نمره د دستگاه په ايكوپمينټ ايډينټيټى ريجستر چه يو ډاټابيس دى هلته ثبتيږى. يعنى دستگاه ته وايى چه دغه د گرځنده تيليفون سيم كارټ په دغه د گرځنده مبايل سيټ كى اچول شوى او په دغه ځاى كى موقعيت لرى.

اوس كه يو شخص خپل سيم كارټ وغورځوى او بل سيم كارټ د گرځنده مبايل سيټ كى يى واچوى نو په دستگاه كى معلوميږى چه هماغه سرى دى صرف سيم كارټ يى بدل كړى، ځكه دستگاه كى مخكى دغه سيټ يو ځل د پخوانى سيم كارټ سره سبت شوى وى او سيستم دا معلومات ساتلى وى.

په اروپايى او نورو هيوادو كى كه څوك دگرځنده مبايل سيټ غلا كړى نو چه څنگه يى خپل سيم كارټ پكى واچوه پوليس يى پيژنى ځكه د نوى سيم كارټ سره د سيټ نمره دستگاه ته ځى او بيا پوليسو ته معلوميږى چه اوس دغه سيټ د چا سره دى.

كه دغه موضوع نوره هم واضع كړم نو ويلاى شم چه كه څوك سل سيم كارټه بدل را بدل كړى نو بيا به هم دستگاه د ټولو سيم كارټونو ريكاډ د دغه گرځنده مبايل سيټ سره يى ساتى.

خلاصه د پورتنى ليكلو دا ده چه سيم كارټ د اچ ايل آر سره ثبتيږى او پرى يو شخص معلوميدلاى او تعقيبيدلاى شى، او د گرځنده مبايل سيټ د ايكوپمينټ آيډينټيټى راجستر سره ثبتيږى او يو شخص پرى معلوميدلاى او تعقيبيدلاى شى.

په تيليفونى دستگاه كى د يوه كال لپاره د يو شخص خبرى د ثبت په ډول ساتل كيږى مگر د ځينى هيوادونو د مبايل شركتونه يى بيا په خاصو كيسو كى د ثبت په طور د ابد لپاره ساتى.

پاتى دى نه وى چه كله گرځنده مبايل سيټ گل (بند) وى د موجوده ځاى د پيدا كيدو يا تعقيبيدو امكان نه لرى.

دا چه په زرگونو كتابونه د مخابراتو په علومو كى ددغه موضوعاتو په هكله ډك دى او ما دغه معلومات د تيرو ځوارلسو كلونو كى د هيواد نه بهر د كارى تجربى پر اساس تر لاسه كړى نو له همدى وجى مشكله ده چه د ريفيرينس يا مآخذ برخى وليكم او په ياد مى اوس هم نه دى.

بله ليكنه چه هم گرانو هيوادوالو لپاره يو سوال دى هغه د گرځنده تيليفونو او انسان ته د دى د ضرر لرل يا نه لرلو په هكله به په نژدى آينده كى وى انشاالله په دغه انټرنيټ پاڼه كى.

د دغى ليكنى موخه صرف د ټولو هيوادوالو خصوصاً د پښتنو اگاهى ده او اميد چه يو څه معلومات مو تر لاسه كړى وى.

امريكا بايد در مورد ايجاد ...

چه كارهاى را انجام خواهد داد.

سيرگى لاوروف همچنان گفت كه روسيه درين مورد به وضاحت با امريكا و افغانستان صحبت خواهد كرد كه اعلان خروج نيروهاى بين المللى از افغانستان كه به مفهوم حل مشكلات امنيتى اين كشور مى باشد، بعد از اين تاريخ ايجاد پايگاه نظامى امريكا چه منطقى خواهد داشت.

برژواك كازيخانوف وزير خارجه قزاقستان در ارتباط به اين اظهارات وزير خارجه روسيه گفت: مساله موافقتنامه همكارى هاى دراز مدت ميان افغانستان و امريكا مساله روابط دو جانبه ميان دو كشور مى باشد. اما او تاكيد كرد كه قزاقستان اميدوار است كه با هر گونه قرارداد و موافقت بايد منافع كشورهاى همسايه افغانستان و در مجموع منفعت كشورهاى آسياى ميانه در نظر گرفته شده، حفظ گردد.

كازيخانوف اضافه كرد، كشورهاى منطقه و قدرت هاى بزرگ بايد اصل احترام به تماميت ارضى و حاكميت ملى افغانستان را بپذيرند و تلاش هاى آنها در اين كشور بايد در جهت تامين صلح و ثبات و بازسازى اقتصادى افغانستان باشد.

وزير خارجه قزاقستان همچنان به اهميت برگزارى كنفرانس بن در مورد افغانستان اشاره كرده و اظهار اميدوارى نمود كه كنفرانس بن و ديگر همچو اجلاس در حل مشكل افغانستان كمك كند.

له امريكا سره د ستراتيژيک ...

امنيت شورا شامله ده، دې ټولو ته د جمهور رييس حكم دا دى، چې له متحده ايالاتو سره په مذاكراتو كې سر له نن هغه مشورې په پام كې ونيسي، چې په دوديزې لويې جرگې كې د خلكو استازيو وركړي دي او همدغو مشورو په اساس دا مذاكرات پر مخ يو سي."

په كابل كې دوديزې لويې جرگې په ټوله كې له امريكا سره د ستراتيژيك سند لاسليك كېدل ومنل؛ خو په دې برخه كې يې شاوخوا څلور پنځوس شرطونه او سپارښتنې وړاندې كړې.

كه څه هم امريكايي چارواكو د دې لويې جرگې د پرېكړو هركلى كړى، خو يو شمېر كتوونكي په دې باور دي، چې په دې شرايطو كې يې ځينې سخت دي او د امريكا متحده ايالاتو ته به يې منل گران وي.

په عين حال كې دغې جرگې د سولې د عالي شورا د مشر برهان الدين رباني د وژنې د پېښې په اړه د جدي تحقيقاتو غوښتنه هم كړې وه.

د جمهور رييس وياند ښاغلي فيضي وويل، چې د وزيرانو په شورا كې پاكستان ته په دې اړه د يوه پلاوي د استولو پرېكړه هم وشوه.

هغه وويل، پاكستان د استانبول په كنفرانس كې منلې وه، چې په دې برخه كې به همكاري كوي:

"د استانبول په كنفرانس كې د همدې غوښتنو، فشارونو او خبرو نتيجه وه، چې بالاخره د پاكستان دولت ومنله او په كابل كې يې د خپل سفير له لارې موږ ته پيغام را واستاوه چې د افغانستان دولت بايد د دې موضوع په اړه پاكستان ته يو پلاوى واستوي."

ښاغلي فيضي د دوشنبې په ورځ وويل چې دغه هيئت به يا په همدې ورځ ناوخته او يا هم په سبا بې د پاكستان پر لور روان شي.

نوموړي وويل په دې پلاوي كې د امنيتي ارگانونو او بهرنيو چارو وزارت استازي گډون لري.

ښاغلي فيضي ونه ويل چې دغه پلاوى به په پاكستان كې له چا سره گوري او څه به كوي.

د افغانستان امنيتي ارگانونه وايي، هغه كس چې د سولې د عالي شورا مشر برهان الدين رباني يې په كابل كې په يوې ځان وژونكي حملې وواژه، د طالبانو د كوټې شورا له خوا د يوه پيغام رسوونكي په توگه استول شوى و.

با تصويب يک قطعنامه شوراى ...

اقتصادى و انكشافى از حاكميت و صلاحيت عام و تام برخوردار خواهد شد.

از آغاز ماموريت نظامى امريكا در افغانستان، آن كشور تا حال بيشتر تحت شرايط مندرج در فصل هفتم منشور ملل متحد قرار داشت.

آلمان كه حدود پنج هزار سربازش در چوكات نيروهاى آيساف در افغانستان فعاليت دارند، در پنجم ماه دسمبر ميزبان كانفرانس بن دوم خواهد بود.

پيتر ويتيگ سفير آلمان در ملل متحد در اين كانفرانس كه مقامات آلمانى آن را كانفرانس مهم خوانده اند، روى پروسه انتقال مسووليت هاى امنيتى به نيروهاى افغان هم بحث هاى صورت خواهد گرفت.

به گفته سفير آلمان در ملل متحد، رياست كانفرانس بن در مورد افغانستان را سرمنشى ملل متحد بن كى مون به عهده خواهد داشت.

پيتر ويتيگ به اسامبله عمومى ملل متحد گفت: بعد از سقوط طالبان، براى اولين بار در ده سال در افغانستان حال يک ستراتيژى معين و هم يک جدول زمانى معين براى انتقال مسووليت هاى امنيتى، موجود است.

ويتيگ گفت: قطعنامه شوراى امنيت ملل متحد شايد باعث افزايش ظرفيت هاى عملياتى نيروهاى افغان گردد. اتحاديه اروپا هم در اين بخش از تصويب قطعنامه ملل متحد حمايت نموده است.

حكومت افغانستان براى تسليم گيرى مسووليت هاى امنيتى به نيروهاى افغان، خود را آماده مى سازند.

در مرحله اول انتقال مسووليت هاى امنيتى به نيروهاى افغان، مسووليت هاى سه ولايت يعنى كابل، پنجشير و باميان و چهار شهر، مزار شريف، لشكرگاه، مهترلام و هرات به نيروهاى افغان سپرده شدند.

قرار بود رييس جمهور كرزى در كانفرانس استانبول نام هاى يازده منطقه ديگر را كه قرار است مسووليت هاى امنيتى آنها به نيروهاى افغان سپرده شود، اعلان كند ولى بعداً گفته شد كه اين يازده منطقه در لويه جرگه اعلان خواهند شد ولى به دلايل نامعلوم اين كار صورت نگرفت.

د ناټو تر وتو وروسته دې تركيه ...

ده له افغانستانه د ايساف ځواكونو له وتلو وروسته په دې هيواد كې د يوه اسلامي هيواد د ځواكونو د مېشتېدو غوښتنه وكړه، وبې ويل: "زما په نظر د تركيې پوځ په تېرو وختونو كې ښه سابقه لرلې او له ۲۰۱۴ وروسته په افغانستان كې د سوله ساتنې رول په ښه ډول ادا كولى شي."

كوكس د دې پوښتنې په ځواب كې چې ايا ايساف به په ۲۰۱۴ كال كې له افغانستانه ووځي، وويل: "درې انتخابونه په پام كې دي؛ لومړى له طالبانو سره جگړه، دوهم له طالبانو سره خبرې او دريم د افغان ځواكونو روزل چې د ايساف ځواكونو ځاى ونيسي."

خو ده وويل چې له افغانستانه د امريكا په مشرى د نړيوالو ځواكونو له وتلو وروسته بايد د تركيې په شان يو اسلامي هيواد په افغانستان كې د بهرنيو ځواكونو مشري په غاړه واخلي. د ده په نظر د امريكايي او ناټو ځواكونو له وتلو وروسته د امريكا لپاره گرانه ده چې په افغانستان كې د ځواكونو د مشرتابه رول ولري.

كوكس پاكستان ته د خپل كتاب د تبليغ لپاره تللى. د ده كتاب "د امريكا او پاكستان د اړيكو تاريخچه "نومېږي.

امريكا، بريتانيا او كاناډا پر ...

هر ډول مالي راكړه وركړه وكړي، نو تاسې د ايران د غير قانوني فعاليتونو ملاتړ كوى. ددې هيواد د اټومي وسلو، له تروريزم څخه د ملاتړ، د مالي موسسو د اغفالولو او له بنديزونو څخه د سرغړونو له خطر سره به مخامخ شي."

د امريكا د متحده ايالاتو د خزانې وزير د ايران د مركزي بانك پر ضد د اقداماتو كول رد نه كړل، دې بانك ته د ايران د تيلو زياتې پيسې داخليږي.

د نړېوالې اټومي انرژۍ د موسسې مشر يوكيا امانو وايي، د اعتبار وړ شواهد موجود دي چې ايران د اټومي وسلو د پراختيا هڅه كړې او پدې اړه ددې هيواد ځينې هڅې ممكن دوام ولري.

تهران د ملگرو ملتونو د اټومي څارنې د موسسې راپور رد كړى او هغه يې بې اساسه بللى دى.

ايران وايي، اټومي پروگرام يې د سوله ايزو مقصدونو لپاره دى.

د ايران د بهرنيو چارو د وزارت وياند رامين مهمانپرست د سه شنبې په ورځ په تهران كې وويل، دا بنديزونه يو ډول پروپاگند او روحياتي جگړه ده او زيات اغيز به ونلري.

روسيې هم د امريكا، انگلستان او كاناډا د انوي بنديزونه غندلي او وايي، په ايران باندې دا بنديزونه د زغم وړ ندي او عير قانوني دي.

د روسيې د بهرنيو چارو وزارت په يوې اعلاميې كې ويلي، دا بنديزونه به
له ايران سره د خبرو او ډيالوگ فرصت له منځه يوسي.

ملگرو ملتونو د ۲۰۱۰ كال د جون مياشتې راهيسې پر ايران باندې څلور ځلې بنديزونه لگولې خو د دغه هېواد د اټومي فعاليتونو مخه يې نده نيولې.

لويديځو هيوادونو ژمنه كړې چې د مسكو او پيكنگ له ملاتړ پرته به په ايران باندې نور فشارونه هم واچوي.

د انگلستان د خزانې وزير ويلي، دې هېواد د لومړى ځل لپاره د ايران له ټول بانكي سكتور سره اړيكې شلولې او د ايران له مركزي بانك سره به په راكړې وركړې بنديز هم پكې شامل وي.

كاناډا هم اعلان كړى چې د ايران د مركزي بانك په گډون به ددې هيواد له ټولو مالي موسسو سره راكړه وركړه بنده كړي.

فرانسه وايي، په ايران باندې بايد بنديزونه نور هم پراخ شي تر څو تهران د خپل اټومي پروگرام په اړه خبرو ته غاړه كېږدي. پاريس وړانديز كړى چې د ايران د تيلو پلورل بايد بند شي.

ډيپلوماټان وايي، اروپايي اتحاديه به د ډسمبر په لمړى نيټې د وزيرانو په غونډې كې د ايران پر ضد خپل دريځ اعلان كړي.

دغه رنگ مو تاسې غوره امت گرځولي ياست چې پر خلكو گواهان اوسئ
شهادت اونيزه
د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارگان

خپرونكى اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنگي څانگه
د امتياز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدير: عبدالله "كامه وال"
مرستيال مدير: عبدالخليل (محمد خليل)

د اړيكو شمېرې:
دفتر: ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤول مدير: ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
مرستيال مدير: ۰۷۷۲۲۷۵۷۸۳

• د شهادت اونيزه د هر ليكوال او د نظر خاوند د ليكنو هركلى كوي.
• د شهادت اونيزه حق لري چې د ليكوال ليكنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح كړي چې د ليكنې اصل روح ته تاوان ونه رسي.
• رالېږل شوې مطالب نه مسترديږي. - يوازې سرليكنه د شهادت د اونيزې رسمي نظر دى.

ديزاين: خواجه وحيدالله | آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مركزي دفتر سيلو ته مخامخ خوشحال خان مېنه، كابل - افغانستان | Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com